ورځپانه
# هیواد

## د سالنګونو لویې لارې په اړه د ریاست الوزراء د عالي مقام حکم

لکه څنګه، چې ټولو ته معلومه ده، چې د ټولګټو وزارت له لوري د سالنګونو لویې لارې د اساسي ترمیم او بیارغونې کار له وړاندې پیل او جریان لري، چې دا مهال یاده لویه لاره د هر ډول ترافیکي وسایطو د تګ راتګ پرمخ بنده ده. په همدې توګه د ریاست الوزراء د عالي مقام د ۲۶/ ۶ / ۱۴۰۲ ه ش نیټې د (۱۱۶۲) ګڼه حکم پربنسټ؛ د ټولو دولتي ادارو کارکوونکو او نظامي منسوبینو ته خبر ورکول کېږي، چې د یادې لویې لارې د رغنیزو چارو تر بشپړېدو پورې دې په دغه مسیر له هر ډول تګ راتګ څخه په جدي توګه ډډه وکړي او د یادې لویې لارې جوړوونکو کارګرو ته دې مزاحمت نه کوي، تر څو د دغې لویې او ملي پروژې کار له خنډ او ځنډ سره مخ نه شي.

مؤسس: عبدالرووف بېنوا | د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز | یکشنبه دربیع الاول ۹ مه ۱۴۴۵ ق کال | د تلې ۲ یمه ۱۴۰۲ ل کال | دسپتمبر ۲۴ مه ۲۰۲۳ م کال | خصوصي ګڼه ۱۳۳ مه | پرله‌پسې ګڼه ۲۲۳ مه ،اتمه دوره

### ذبیح الله مجاهد

## د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ درېیمه ترانزیټي لاره او بندر جوړېږي

د پاکستان د حکومت له خوا له ۹ ورځو راهیسې د تورخم بندر له تړل کېدو وروسته اوس



اسلامي امارت د هیواد د مالونو د صادراتو او وارداتو لپاره د یوې بدیلې لارې په لټه کې دی.د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد رسنیو ته ویلي ، چې د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د بادغیس ولایت په بالامرغاب ولسوالۍ کې نوي ترانزیټي کرښه جوړېږي او د دې ترانزیټي لارې موخه د صادراتو د لا زیاتي آسانتیا په موخه ده. د اسلامي امارت د ویاند د څرګندونو په اساس د دې لارې د جوړولو لګښت ټاکل شوی او د دغې پروژې د عملي کولو هڅې روانې دي.ذبیح الله مجاهد زیاته کړه، چې پر دې لارې کار روان دی او د پروژې کار ټاکل شوی دی. موږ له شرکتونو سره خبرې کوو چې د دې سړک د جوړولو تړون لاسلیک کړي او کار یې پیل کړي.خو د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت وايي، چې د اسلامي امارت د رهبرۍ د حکم پر بنسټ د دې وزارت سرپرست په بالامرغاب کې د دې پولې برخې له نږدې څارلې او په دې برخه کې یې د سیمې د خلکو غوښتنې راټولې کړې دي.د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت ویاند ۵مخ

## د آسیا پراختیایي بانک له افغانستان سره د ۴۰۰میلیونو ډالرو مرسته تصویب کړه

له افغانانو سره د نړیوالو د بشري مرستو پر دوام د آسیا پراختیایي بانک له بېوزلو او زیانمنو افغانانو سره د ۴۰۰میلیونو ډالرو مرستې د تصویب خبر ورکړی دی.د دغه بانک په خبرپاڼه کې لیکل شوي ،چې دا مرسته تر ډېره زیانمنو افغانانو ته ځانګړې شوې ده.په خبرپاڼه کې راغلي چې دا ټولې پیسې د ملګرو ملتونو ادارو ته ورکول کېږي، چې د زیانمنو افغانانو پر لاسنیوي یې ولګوي.په خبرپاڼه کې راغلي ،چې د دې مرستې له ډلې سل میلیونه ډالره د خوړو نړیوال پروګرام ته ورکول کېږي ،چې څه باندې یو اعشاریه درې میلیونه افغانانو ته یې ورسوي.دوه سوه میلیونه ډالره یونیسف




ته ورکول کېږي ،چې په لسو ولایتونو کې د اوو نیم میلیونه ماشومانو ملاتړ وکړي او پاتې سل میلیونه یې د کرنیزو فعالیتونو پر ملاتړ لګول کېږي.تر دې وړاندې د خوړو نړیوال پروګرام د ژمي تر پایه له افغانانو سره د مرستې لپاره د یو میلیارد ډالره مرستو غوښتنه کړې وه.

## یو ایټالوي پانګوال د افغانستان د ډبرو په کانونو کې پانګونه کوي

د اسلامي امارت د کانونو او پټرولیم وزارت مطبوعاتي دفتر د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې د دې وزارت سرپرست شهاب الدین دلاور د ایټالوي



پانګوال پیرو بتهن د ډبرو ماهر او د طبیعي ډبرو قراردادي ستون نیچرل شرکت مشر سره وکتل. په دې ناسته کې د اسلامي امارت د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست د افغانستان په کانونو کې د پانګونې د فرصتونو او آسانتیاوو په اړه معلومات وړاندې کړل.د ایټالیا پانګه وال پیرو بتهن د بهرنیو پانګوالو لپاره د افغانستان په کانونو کې د پانګونې په برخه ۵مخ

## د هیواد ټولو پوهنتونوته لابراتوارونه جوړېږي

د لوړو زده کړو وزارت له لوري پرون د هیواد د پوهنتونونو موجوده ځانګو د عملي او تطبیقي مضامینو مفرداتو پراختیا او د لابراتواري موادو، وسایلو او تجهیزاتو د لست چمتو کولو د لومړي پړاو کلستر پیل شو.د یاد کلستر په موخه د هیواد د بېلا بېلو پوهنتونونو استادان رابلل شوي او ۵ ورځې به دوام وکړي.د لوړو زده کړو وزارت علمي معین دوکتور لطف اللّٰه خیرخواه د یاد کلستر د پیل په مراسمو کې وویل، چې پوهنتونونه باید خپل کاري پلانونه داسې چمتو کړي، چې د هیواد تطبیقي اړتیاوې پوره کړي.خیرخواه زیاته کړه، د لوړو زده کړو وزارت هڅه کوي، چې پوهنتونونه له نظریاتي او سلیقوي کشمکشونو څخه خلاص او علمي او تطبیقي برخې ته ډېر کار وکړي.د نوموړي په خبره د روان کال تر پایه به د هیواد د ټولو دولتي پوهنتونونو د ساینس پوهنځیو لابراتوارونه فعال او په ټولو اړینو وسایلو سمبال شي.د لوړو زده کړو وزارت علمي معین همدارنګه وویل، چې تر راتلونکو پنځو کلونو




پورې د هیواد د ټولو دولتي پوهنتونونو د اړوندو پوهنځیو لپاره د مجهز و لابراتوارونو جوړولو پلان تر کار لاندې دي.د یاد کلستر ګډون کوونکي به د عملي او تطبیقي مضامینو د مفرداتو د پراختیا او د لابراتواري موادو، وسایلو او تجهیزاتو نوملړ چمتو او د لوړو زده کړو وزارت په واک کې به یې ورکړي.په ورته وخت کې د لوړو زده کړو وزارت چاروا کو ۵مخ

## په کندهار کې د یوه کانال د جوړولو چارې پیل شوې

د کندهار ښاروالۍ مسئولین، وايي، چې په دې ولایت کې د ۷۶۷ مترو په اوږد والي د یو کانال د جوړولو چارې پیل شوې دي.د کندهار ښاروالۍ ویاند سیف الله عاصم د باختر آژانس خبریال ته ویلي چې یادې ښاروالۍ د کندهار ښار په اتمې ناحیې پورې اړوند دریم ګذر کې د ۷۶۷ مترو په اوږدوالي او ۲د مترو په سور د یو کانال د جوړولو چارې پیل کړي، چې په ۲ میاشتو کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.یادونې وړ ده، چې د یاد کانال په جوړېدو سره د سیمې خلکو ته هم د کار زمینه برابره شوې ده

### عبداللطیف منصور:

## د آمو سیند حوزه کې له چا سره تړون نه‌لرو

اسلامي امارت وايي ، چې د آمو سیند په حوزه کې له هېڅ هیواد سره تړون نه‌لري او له اوبیزو سرچینو کار اخیستل د افغانستان حق دی.د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست عبداللطیف منصور وايي، چې افغان حکومت چمتو دی، چې د آمو سیند له ګاونډیو هیوادونو سره د اندېښنو د رفع کولو لپاره خبرې وکړي. دا په داسې حال کې ده چې د ازبېکستان ولسمشر څو ورځې مخکې د منځنۍ آسیا هیوادونو په سرمشریزه کې د قوش‌تېپې کانال پروژې د جوړېدو په هکله اندېښنه ښودلې وه.عبداللطیف منصور په دې هکله وايي: ((اندېښنه هغه څوک څرګندوي او اعلانوي چې د معاهدې پر بنسټ هوکړې وي، افغانستان د اوبو په هکله له چا سره معاهده نه‌لري



او موږ هم په دې هکله ژمنه او تړون نه دی لرلی. هغه وخت چې له تړون څخه سرغړونه وشي، هغه وخت اندېښنه څرګندېږي. په اوسنیو شرایطو کې د آمو سیند په حوزه کې موږ له هېچا سره معاهده نه‌لرو))بله خوا، د اوبو د مدیریت او اقتصادي چارو یو شمېر شنونکي په هیواد کې د وچکالۍ د پراخ ناورین په تړاو د اندېښنې په څرګندولو سره د هیواد په بېلابېلو برخو کې د اوبو د بندونو پر جوړېدو ۵مخ

## په بلخ کې دیوه کلینیک دبنسټ ډبره کېښودل شوه

د عامې روغتیا وزارت، د بلخ د چمتال ولسوالۍ په نوشهر علیزي کلي کې د (بي. اچ.سي) کلینیک د بنسټ ډبرې اېښودلو خبر ورکړی دی. دغه وزارت پرون د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د یاد کلینیک د بنسټ ډبرې اېښودلو پر مهال، د بلخ ولایت د عامې روغتیا رئیس ډاکټر نجیب الله توانا، د میندو او ماشومانو د مړینې کچې په را کمولو کې، د کلینیک جوړول مهم او حیاتي بللي او زیاته کړې یې ده، چې دغه کلینیک د څه ناڅه پنځه میلیونه افغانیو په لګښت جوړېږي چې په ګټې اخیستنې سره به یې شاوخوا اته کورنۍ له روغتیایي خدمتونو برخمنې شي.د یادونې وړ ده چې د اساسي روغتیا په دغه مرکز کې به د نارینه او ښځینه ناروغانو معاینات، واکسین، تغذیه، رواني روغتیا او نور روغتیایي خدمتونه په وړیا ډول خلکو ته وړاندې شي.

## تاکید آگاهان بر ادامه کمک‌های بشری برای افغانستان

پس از آنکه برنامه جهانی غذا(WFP) کاهش کمک‌های بشری به مردم افغانستان را اعلام کرد، برخی از کارشناسان می‌گویندکه نیاز است تا جامعه جهانی سازمان‌های خیریه را در امر کمک‌رسانی به نیازمندان حمایت کند. آنان می افزایندکه کاهش بودجه سازمان‌های جهانی مردم افغانستان را با مشکلات زیادی روبه‌رو خواهد کرد.

درحالی که برنامه جهانی غذا(WFP) از قطع شدن کمک‌های بشری به نیازمندان در افغانستان هشدار می‌دهد، برخی از کارشناسان مسائل اقتصادی تاکید دارندکه جامعه جهانی باید دور از مسائل سیاسی، نهادهای خیریه را در امر کمک رسانی حمایت کند.ظاهر حلیمی یکی از کارشناس اقتصادی در این رابطه می‌گویدکه کاهش بودجه



در این سازمان‌ها و عدم دسترسی نیازمندان به کمک‌های جهانی مردم کشور را با مشکلات زیادی روبه‌رو خواهد کرد.(( دقیقا کاهش بودجه سازمان‌های کمک کننده در افغانستان اثرات منفی روی وضعیت اقتصادی مردم خواهد گذاشت که سبب افزایش فقر و مهاجرت و نا هنجاری خواهد شد.))این درحالی است که مسئولین برنامه جهانی غذا از کاهش بودجه کمک‌های بشری خبرداده و می گویند که ص ۵

هیواد

یکشنبه د ربیع الاول ۹ مه ۱۴۴۵ ق کال | د تلې ۲ یمه ۱۴۰۲ ل کال | د سپتمبر ۲۴ مه ۲۰۲۳ م کال | خصوصي ګڼه ۱۳۳ مه | پرله‌پسې ګڼه ۲۲۳ مه ،اتمه دوره

# د فکري جګړې اغېزې

محمد شریف احمدزی

ښکاره خبره ده چې څومره بشریت د جنګ په ډګر کې د جګړه ییزو ورانوونکو او له منځه وړونکو سلاوو په زیږد کې مخ په وده دي؛ په همدغې پیمانه په فکري جګړه کې هم مخ په وده دي، چې دا جګړه اسلامي ټولنې ته سخت ګوزار ورکوونکې جګړه ده او ښایي اغېزې یې تر نظامي جګړې زیاتې او ګواښوونکې وي. پر اسلامي نړۍ باندې د لوېدیځوالو او نورو صلیبیانو یرغلونو پرلپسې د دې لاره پرانیستله چې پر اسلام او مسلمانانو باندې فکري جګړه پیل کړي چې د جګړې یو نوي میتود دي کله چې کفارو د مسلمانانو سره د نظامي جګړې په ډګر کې ماته وخوړه تر مایوسیت وروسته دا فکر ورته پیدا شو چې مونږ نه شو کولای له مسلمانانوسره د متو په زور وجنګېږو پر مسلمانانو باندې جنګ نه دي په کار بلکې د دوي پر دین او فرهنګ باندې جنګ ګټور او ښه پایله لرونکې دي له همدې امله یې خپل د دښمنۍ غشي د اسلامي مفکورو او فرهنګ پر لورې وتوغاوه چې تر اوسه پورې یې لړۍ هم روانه ده؛ فکري جګړه د لوېدیځ د هغو غیر نظامي رویو څخه عبارت ده چې د اسلامي ارزښتونو د له منځه وړلو، د مسلمانان د اسلامي تمسک څخه دلرې کولو، د اسلامي ایدیالوژۍ او اسلامي فکر څخه د خلاصولو لپاره کارول کېږي. فکري جګړه غیر نظامي وسایل او آلات دي چې د اسلام د ښمنانو د مسلمانانو په منځ کې غورځولی دي څو مسلمانان له مذهب څخه لرې کړي او هغه شیان تر برید لاندې راولي کوم چې په عقیده، افکارو، تقالیدو او نورو فکري اړخونو پورې اړه لري.

د فکري جګړې سلاوي ډله ییزې وژونکې وسلې، بمونه، راکټونه، او ماډرن توپونه نه دي بلکې د دې جګړې وسلې تر پورتنیو سلاوو




بدترې دي؛ لکه د اسلام ضد او غیر اسلامي فکرونه خپرول، مسلمانانو ته په خپلو عقایدو او احکامو کې د شک او تردید پیدا کول، په دیني تعلیماتو او اسلامي ټولنه کې بې باورې شیندل او داسې نور... فکري جګړه په یو څو شیانو پورې خاصه نه ده بلکې د انساني ژوند ټولې چارې تر برید لاندې راولي. له همدې امله الله تعالی د فکري جګړې کوونکې په سختۍ سره محکوم کړي دي او په بدو نومونویې یاد کړي دي. لکه شیاطین، ناپوهان، لوي مجرمان، د زړه ناروغان او داسې نور. دغه جګړه د فزیکې ورانیو پر ځای نورې بدې پایلې هم زیږوي لکه: فتنې، کبر، ځانځانې او داسې نور. الله ج په دې هکله فرمایي: فتنه اچول تر وژنې بدتره ده د فکري جګړې مشران او متولیان د خلکو د تیر ایستلو او فکرونو د غولولو لپاره داسې شعارونه په کار اچوي وده، تمدن، اصلاحات، حق غوښتنه، د بیان او نظر آزادي د یادو شویو مقاصدو لپاره پاڅون او داسې نور د دوي دغه شعارونه بې عدالتۍ، زور زیاتي او استثمار منځته راوړي.

فکري جګړه په څو مرتبو تر نظامي جګړې خطرناکه ده؛ ځکه نظامي جګړه ټولو ته معلومه دهږ یعنې پوه او ناپوه، لوي او کوچنی ته روښانه ده او ټوله په یوه سلا د دفاع په موخه مقاومت او قربانۍ ته حاضر دي چې دا کار ډېر آسانه دئ لیکن فکري جګړه په پټه طرحه کېږي د لږو خلکو پرته یې څوک نه ویني او نه یې پېژني تر هغه وخته څوک نه ورته متوجه کېږي تر څو پورې چې ژورې اغیزې، ژور ټپونه، لوي تاوانونه او منفي اغیزې یې ښکاره شوي نه وي.

د فکري جګړې جنګیالي او ملاتړي خپلو موخو ته د رسیدو لپاره د دوه ډوله وسائلو څخه کار اخلي ښکاره او پټ وسائل چې له ښکاره وسایلو څخه یو هم سکو لریزم دي. سیکولریزم د دې څخه عبارت ده چې دیانت او سیاست سره بیل شي. یعنې عبادت یواځې په مسجد کې خاص کړل سي او په دولتي، اقتصادي، ښوونیزو او ټولنیزو چاروکې دین ته هیڅ ځای ورنه کړل شي. فکري جګړه د خپلو ارمانونو د پوره کولو او شتون پیدا کولو لپاره تر ځلورو مرحلو تیرېږي او هره مرحله یې د ورپسې مرحلې لپاره تمهید او مقدمه وي او د دغه مرحلې په لاندې ډول دي.

۱ ـ صلیبي جګړې: هغو جګړو ته ویل کېږي چې د نصاراوو او د دوي د مذهب یرغلګرو مشرانو د اسلام پر ضد د صلیب په نامه بیرغونه ورپول دا جګړه یې د اسلام د مقابلې د پیاوړتیا په موخه د صلیب په نامه ونوموله .

۲ ـ استعمار ( ښکېلاک ) : کله چې کفارو په صلیبي جګړو کې ماته وخوړه وروسته په دې لټه کې شول تر څو اسلامي خلافت له منځه یوسي او اسلامي هیوادونه تر خپل واک لاندې ونیسي او خپلې شومې موخې پرې عملي کړي.

۳ ـ استشراق: د غربیانو په اصطلاح کې استشراق د هغو څېړنو او فکري یرغلونو څخه عبارت دي چې د غرب څخه د شرق د مسلمانانو د فرهنګ، دین، ژبې او عاداتو په وړاندې پر مخ بیول کېږی.

۴ ـ د مسیحیت دودول او دمسیحي تبلیغ لپاره د مبلغینو استخدامول او په مټ یې د اسلامي فرهنګ له منځه وړل.

الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي:

ژباړه:

تل به دوي ( کافران ) ستاسو سره جنګیږی ترڅو تاسو له خپل دین څخه واړوي که وتوانیږی. ( البقره، الایه: ۲۱۷

سرچینې:

ــ قرآن کریم .

ــ حماد، مولوي عبدالهادي، فکري جګړه، ۱۳۹۴ .

ــ تاریخ الاسلام.

# د لوستلو او زده کړې ښې طریقې

اسمـــــعیل « ســــراج »

د مطالعې لپاره یو بنسټیز شرط د خواصو را غونډول دي.

په معمولي ډول د ځینو زده کوونکو څخه د هغوی د کورنۍ مشران، استادان او ښوونکي دا شکایت لري چې زما زوی یا د نوموړی زده کوونکی افکار ښه نه دي او همدا موضوع په ښوونځیو کې د ښوونې او روزنې د بهیر لپاره یوه ستره لانجه او ستونزه ده.

نو په دې توګه مونږ لازمه و ګڼله چې د دغې ستونزې د لرې کولو لپاره د ځینو مطالبو لوستلو ته ستاسې پام راوګرځوو.

۱ – زده کوونکي باید ټولګي ته د خپل ښوونکي د ننوتو څخه د مخه روحي او عصبي آرامي ولري پرته له دې به د هغوی د حواسو مرکزي برخه د خلل او کړکیچ سره مخ وي.

۲ – د افکارو د یو ښه مرکزیت لپاره زده کوونکی باید د لوست له پیل څخه د مخه پنځه دقیقې آرام او قرار کښیني.

۳ – د کور مشرتابه او د ښوونځي او مدرسې مشران باید د خپلو زده کوونکو لپاره د کور او ښوونځۍ فضا او سیمه داسې جوړه کړي چې د دوي ماشومان او زده کوونکي په آرامه او د خوښۍ په فضآ کې خپل لوست پر مخ بوځي.

د لوستلو لارې چارې: د علمي مطالعې د لارو چارو په هکله او ددې فنونو د نظر د خاوندانو په عقیده دادي چې:

الف – د ښوونکي څخه د کتاب لوستل او د ښوونکی څخه وروسته د کتاب لوستل:

دا په دې معنا ده چې، زده کوونکی باید همیشه د خپل ښوونکي څخه د مخه یو لوست مطالعه کړي وي تر څو د لوست د زده کړې لپاره ذهني تیاری ولري او د استاد او ښوونکی د لوست د تشریح او توضیح څخه وروسته یو ځل بیا هغه مطالعه کړي.

ب – پوښتنه کول: لوست باید د پوښتنې په طریقه طرحه شي او له ځانه څخه د لوست د ښې زده کړې لپاره پوښتنې وکړو.

ج – د مهمو مطالبو لاندې د کرښو ایستل: دا خبره باید له یاده ونه باسو چې له لس سلنې اضافه د مهمو مطالبو لاندې کرښې ونه



کښل شي.

د – د مهمو مطالبو تکرارول: د لوست د مطالعې څخه وروسته اساسي او مهم مطالب باید د تکرار په صورت کې حافظې ته وسپارل شي.

د مطالعې مقدماتي برخې:

۱ – د مطالعې لپاره باید لومړۍ یو مناسب ځای وټاکل شي او هغه ځای باید تغیر او بدلون ونکړي.

۲ – د مطالعې په ځای کې کوم شی چې د حواسو لپاره اخلال او ضرر رسوي هغه باید له منځه یوړل شي.

د مثال په توګه: ستاسې د مطالعې د میز پر سر د هغو کتابونو شتون چې تاسې ورته اړتیا نه لرۍ، په همدې ډول ورځپاڼې تصویرونه او نور غیرضروری شیان.

۳ – د مطالعې لپاره یوه آرامه سیمه.

۴ – د ناروغۍ په موجودیت او د ستړیا په وخت کې مطالعه بې ګټې ده.

د مطالعې لپاره ګټوری مشورې:

۱ – هوا او برښنا یا رڼایي: ښه هوا د سا ایستلو لپاره ګټوره او د مطالعې لپاره فضآ را منځته کوي، کله چې د خوښۍ فضآ را منځته شوه د انسان ستړیا له منځه ځي او د مطالعې څخه ښه ګټه تر لاسه کیږي.

که چیری د خوني او یا د اتاق کړکۍ بندې وي هلته د تنفس لپاره د اړتیا وړ هوا موجوده نه وي نو په دې صورت کې مطالعه ګټوره نه ده.

۲ – د برښنا او رڼایۍ مثبت لورې:

برښنا باید د کیڼ لورې څخه له پاسه د ۴۵ درجو په زاویه په کتاب او کاغذ باندې **...۵مخ**

## سرلیکنه



## افغانستان سره اړیکې یوازې د افغانانو اړتیا نه ده!

دوه لسیزې وړاندې د امریکا دمتحدو ایالاتو په مشرۍ لویدیځې نــړۍ ترهګرۍ سره د مبارزې تر دروغجن شعار لاندې د ټولو نړیوالو او بشري قوانینو خلاف پر افغانســتان یرغــل وکړ. که څه هم په ښــکاره ډول یې د امنیت، بیا رغونې، پرمختګ او ټولنیز عدالت تامین افغانستان ته د راتګ موخــې او اهداف ګڼل؛ خو په عمل کې هر څه د شــعار خلاف تر سره کېدل، د اشــغال پــر مهال هیواد له بل هر وخته ډېر ناوړه امنیتي وضعیت کې قرار درلود، هره ورځ به په اوسط ډول تر درې سوه کسانو ته مرګ ژوبله اوښته. د میلیاردونو ډالرو پر راوړلو سربیره هیڅ بنسټیزه او زیربنایي پروژه تطبیق نشــوه او په فساد او د مخدرو توکو په تولید او قاچاق کې افغانستان د نړۍ لومړۍ درجه هیواد ګڼل کېده.خو له کومې ورځې چې اسلامي امارت د هیواد د چارو واګې په لاس کې اخیســتي، په ټولو برخو کې مثبت بدلون راغلی، بشــپړ امنیت تامین شوی، د ګڼو بنسټیزو پروژو کارونه جریان لري او د فساد او مخدرو موادو د تولید او قاچاق کچه په بې سارې ډول راټیټه شــوې ده. که څه هم د ځینو نړیوالو قوتونو او استخباراتي سازمانونو له لوري د رسنیو په وسیله ډېرې هڅې وشوې، چې د اسلامي امارت بریاوې پټې کړي، خو ټولې هڅې یې ناکامې او اوس د نړۍ ډېر هیوادونه او ســازمانونه هم دې نتیجې ته رســیدلي، چې افغانستان کې د اسلامي امارت بدیل نشــته او باید تعامل ورسره وشي او دغه تعامل او اړیکې یوازې د افغانانو اړتیا نه ده، بلکې د نړۍ او سیمې هیوادونه هم اړتیا لري چې د خپلو سیاسي او اقتصادي ګټو د تامین په موخه د افغانستان اسلامي امارت سره سیاسي او اقتصادي اړیکې ورغوي.

# نقش صداقت و راستی در زنده گی اجتماعی

پوهنیار سمونمل ولی شاه تره خیل

واژه صداقت از صدق گرفته شده ، در اصل به این معناست که گفتار و یا خبری که داده می شود مطابق مصادر و مخارج باشد و کسی را که خبرش مطابق با واقع و مخارج باشد، صادق و راستگو می گویند.اما از آنجا که به طور استعاره و مجاز، اعتقاد، عزم و اراده را هم قول نامیده اند در نتیجه صدق را در آنها نیز استعمال کرده، انسان راهم که عملش مطابق با اعتقادش باشد و هم کاری که می کند با اراده و تصمیمش مطابق باشد. پس گفته میتوانیم که صداقت و راستی در اصطلاح عبارت از صداقت و راستگویی سخن است، قول حق، فعل و عمل حق است و دروغگویی را سخن نادرست، قول ناحق، خلاف حقیقت، مقابل صدق تعریف می کند. صداقت و راستگویی از بزرگترین فضایل اخلاقی است که در تعالیم و آموزه های دینی از جایگاه والا برخوردار است و در قرآن کریم روایات فراوان به آن سفارش شده است. قرآنکریم در این باره می فرماید: (ای کسانی که ایمان آورده اید، از خدا پروا کنید و با راستگویان باشید). بنا براین صداقت و راستی باید در تمام مراحل وجودی و زندگی انسان تحقق پیدا کند. یعنی از لحاظ افکار و عقاید، از لحاظ خوی ها، صفات نفسانی، از جهت رفتار و کردار و اعمال، از جهت گفتار و بیان، اگر انسان تمام حرکات و سکنات و همه احوال او روی صدق، راستی، درستی و حقیقت صورت گیرد البته سرمایه خوشبختی و زمینه سعادت و مسیر کمال و انسانیت را به دست آورده است. پس صدق در صورتی ثابت و برقرار می شود که از مراحل کذب، تقلب، حیله و انحرافات در افکار و اعمال و تظاهراو برخلاف حقیقت و خود نمایی و خودستایی و هوا پرستی، هوا سرانی و دیگر افکار، رفتار، کردار و گفتار های مخالف حق دوری کرده و از هر گونه نادرستی و زشتی خود را پاک و تزکیه کند. صداقت نیز نوعی اقدام و رفتار در بیان چیزی است که شخص آن را صادق می شمارد. بنابرین. براساس سه گونه زبان، صداقت نیز گونه های مختلف می یابد. مثلاً تطابق زبان گفتاری با زبان کالبدی صداقت است. تطابق زبان رفتاری و گفتاری صداقت است و در آثار مقدمان صداقت تنها به گفتاری محدود نشده است و آنها نیز صداقت در گفتار، پندار، کردار را بر شمرده اند.از آنجائیکه مسلمانان منحیث برادر محافظ و نگهبان جان، مال، دارایی، کرامت انسانی و سایر حقوق یک دیگر بوده وموجود اجتماعی می باشد با حقوق مردم سروکار دارند، این موقف او را به صداقت و راستی مکلف می سازد. بناً باید با مردم و اطرافیان خود صادق، راستکار و امین باشد هیچگاهی دروغگویی، فریبکاری و خیانت در امانت را پیشه خود قرار ندهد و با پیشآمد و برخورد های صادقانه اش اعتماد مردم را به خود جلب نموده می تواند. وقتی که اعتماد حاصل شد زمینۀ ایجاد تفاهم بین مسلمانان مساعد گردیده و سؤتفاهم از بین میرود. با ایجاد تفاهم همکاری مطرح میگردد، وقتی که همکاری صورت گرفت موفقیت در اجرای کارها و حصول اهداف دست می دهد. بر علاوه اینکه از لحاظ مسئولیت اجتماعی مسلمانان مکلف اند صداقت و راستی را در تطبیق و رعایت احکام قوانین وضعی در نظر بگیرند بلکه از لحاظ دینی نیز الزاماً مکلف به رعایت صداقت و راستی میباشند. مسلمانان با سلوک و برخورد صادقانه شان اعتماد و همکاری یکدیگر را جلب نموده میتوانند. وقتی که اعتماد موجود بود، فاصله بین آنها از بین میرود. در صورت عدم رعایت صداقت و راستی در اجرای امورات محوله دچار مشکلات و ملامت وجدان خواهند شد. همچنان در صورت تلف شدن حقوق دیگران نه تنها قانوناً مجازات گردیده بلکه در محکمه عدالت الهی نیز شرمنده و مجازات میگردد. از اینرو لازم و ضروری است که یک مسلمان در زنده گی خویش رهنمود های دین مقدس اسلام و قوانین نافذه کشور و کرامت انسانی شان را رعایت نموده و در رفتار خود صادق و راست کار باشد و نه باید با آنها رفتار خلاف کرامت انسانی را انجام دهد، چون هرمسلمان به احترام و حمایه حقوق و کرامت انسانی هم نوعان خود مکلف است. صداقت و راستی هدیه بسیار ارزشمندی است که نباید آنرا انسان، بخصوص مسلمانان کم ونادیده بگیرند و مسلمان باید از هر ص۵

# بندر چابهار نقش مهمی در ترانزیت کالاهای بازرگانی کشور خواهد داشت

مجتبی شکوری

افغانستان یک کشور محاط به خشکه می باشد و به راه های بحری دسترسی ندارد،تاجران کشور اکثراً صادرات و واردات افغانستان را از طریق بندر کراچی پاکستان انجام می دهند،اما تاجران ما هنگام ترانزیت اموال شان از بندر کراچی به افغانستان از طرف موظفین پولیس این کشور دچار مشکلات زیادی می شوند.روزها،هفته ها و حتاماه ها کانتینرهای مواد غذایی و سایر کالاهای تجارتی در بندر کراچی توقف داده شده تا سرحدی که مواد غذایی،میوه جات تازه،سبزیجات تازه و سایر مواد مورد ضرورت پوسیده شده و از استفاده خارج گردیده و از همین ظلم تاجران کشور ما میلیونها دالرامریکایی متضرر و خساره مند گردیده اند.در همین روز های گذشته ما شاهد هستیم که مسؤلین بندر کراچی به بهانه های مختلف بندر را مسدود ساخته که یک ضربه سنگین و کمرشکن بالای تاجران افغان وارد گردیده است و اکثراً مسؤلین دولت پاکستان به تعهداتی که در زمینه ترانزیت اموال و کالاهای تجارتی با افغانستان دارد هیچ گاهی صادقانه عمل نکرده و از تاجران به حیث حربه سیاسی بالای افغانستان کار می گیرد.این کار مسؤلین پاکستان باعث کندی رشد تجارت و اقتصاد افغانستان گردیده است.چنانکه ذبیح‌الله مجاهد سخنگوی امارت اسلامی افغانستان اخیراً گفته است : ((به هدف زیانمند نشدن تاجران کشور و متکی نبودن به یک مسیر ترانزیتی،تلاش برای توسعه فعالیت بندر چابهار ایران از سوی امارت اسلامی افزایش یافته است )) وی تاکیدنمو: ((با بلند رفتن ظرفیت در بندر چابهار و فعال شدن راه آهن این مسیر با افغانستان مشکلات تاجران را تا حد زیادی حل خواهد کرد. ))وی افزود:((در کل باید بگوییم که ما در تلاش این هستیم تا جلو زیان های وارده را به تاجران خود بگیریم و تاجران کشور متکی نباشند به یک کشور،یک مسیر و یک راه،حالا هم چابهار فعال است واز ظرفیت آن تاجران ما استفاده می کنند.))همچنان عبدالسلام آخندزاده جواد سخنگوی وزارت صنعت و تجارت نیز گفته است((:برنامه‌های تجارتی امارت اسلامی افغانستان تنوع محور است،وزارت صنعت و تجارت برنامه‌ها را بصورت موازی پیش می برد.نیت ما روابط نیک،دوستانه و متکی به منافع اقتصادی و حسن همجواری است.))ودر همین حال مسؤلین اتاق تجارت و سرمایه گذاری چنین می گوید: ((با حل چالش های موجود در بندر چابهار،روند تجارت و ترانزیت بین‌المللی افغانستان نیز توسعه بیشتر خواهد یافت.))خان محمد سرفراز رئیس دارالانشاه اتاق تجارت و بازرگانی گفت: ((بخاطر رفع مسایل تخنیکی چابهار باید امارت اسلامی هرچه عاجلتر دست بکار شود تا مایک راه بدیل داشته باشیم،به این معنی که تجارت ما و ترانزیت و صادرات ما همیشه با ممالک همسایه شکار مسایل سیاسی می شود.: ((پیش از این مقام های اداره راه آهن افغانستان از تکمیل شدن هرچه زودتر پروژه راه آهن چابهار و نیمروز خبر داده و این پروژه را یکی از اولویت های بنیادی این اداره براي توسعه تجارت و ترانزیت و ایجاد سهولت ها در حمل ونقل کالاهای بازرگانی میان کابل و تهران خوانده اند.بنابر ضرورت شدید افغانستان به دسترسی به آب های آزاد جهان امارت اسلامی افغانستان مکلف است که راه های بدیل برای صدور و ورود اموال تجارتی کشور پیدا کند،یگانه راه بدیل بندر کراچی همانا بندر چابهار ایران می باشد که این بندر افغانستان را مستقیماً به آب های آزاد دنیا وصل می کند و باعث رشد و رونق تجارتی می گردد. کشور های آسیای میانه مانند ترکمنستان، ازبکستان،قرغزستان و قزاقستان نیز می توانند از طریق افغانستان به بندر چابهار وصل گردند.بندر چابهار در سواحل بحرهند و دریای عمان موقعیت دارد و یکی از مناطق آزاد تجارتی می باشد که قابلیت کشتی رانی در آن موجود است. یگانه بندری که آسان ترین راه و راه بردی ترین راه دسترسی به آب های آزاد کشور های خشکه مانند افغانستان،ترکمنستان،تاجکستان و قرغزستان می باشد.چابهار از اهمیت فراوان تجارتی برخوردار است تا حال از جانب تعدادی از کشور ها سرمایه گذاری و سازندگی زیادی در این بندر صورت گرفته است.بدون شک صادرات کشور به صورت مستقیم از طریق بندر چابهار به هندوستان و سایر کشور های جهان ارسال می شود.بندر چابهار در مقایسه با بندر کراچی پاکستان که همیشه با مشکلات همراه بوده برای افغانستان از جایگاه بهتری برخوردار است. با آغاز صادرات از بندر چابهار تجار افغانستان قادر خواهند شد تا کالاهای تجارتی خود را مستقیم به مارکیت های مورد نظر رسانیده و متقابلا کالاهای وارداتی خود را بدون کدام تشویش به افغانستان برسانند.آگاهان مسایل اقتصادی به این باور اند که با استفاده از بندر چابهار مناسبات تجارتی افغانستان با جهان بهتر می شود و کالاهای وارداتی هم به قیمت ارزان و وقت کمتر به دسترس هموطنان ما قرار خواهد گرفت. جمهوری هند همیشه بر توسعه روابط تجاری با افغانستان تاکید نموده است،هند چهارمین شریک تجاری افغانستان بوده که ارزش این مناسبات تجاری در هر سال صد ها میلیون دالر محسوب می گردد.باید گفت که تلاش بخاطر فعال ساختن بندر چابهار نوید خوبی است برای گسترش سرمایه گذاری هند در افغانستان که از همین مسیر در حمل ونقل کالاها و حتا مواد استخراج شده معادن می تواند استفاده اعظمی به عمل آورد.روی این منظور امارت اسلامی افغانستان به خاطر منافع علیای کشور ورهایی از راه های پرخطر و پر چالش و غیر اقتصادی که همیشه اقتصاد کشور مانرا ویران ساخته و کشور مغرض صدمات جبران ص۵

# ورزش فوتبال در افغانستان و جهان

غلام ربانی « افشار»

ورزش فوتبال در دنیای امروزی شیوه سیستماتیک را به خود گرفته است که با ایجاد سیستم های جدید توسط مربیان و کارشناسان ورزشی، ورزش فوتبال چهره بهتر را به خود گرفته است و از دیدن و یا تماشای بازی توسط بازیکنان به شکل سیستماتیک میتوان از آن لذت برد. تاکتیک های بازیکنان که در موقع دفاع باید توپ را از حریف بگیرد او باید با مهارتهای درگیری، پاس دادن، سرزدن و کنترول توپ تسلط داشته باشد و از آماده گی جسمانی خوبی نیز برخوردار باشد. بحث «سیستم» در فوتبال روز دنیا جزء مواردی است که همواره نگاه‌های متفاوتی نسبت به آن وجود دارد.تاریخچه بازی فوتبال در جهان درمورد پیدایش بازی فوتبال معلومات دقیق به دسترس نبوده است ولی گفته میشود نوعی آزان قبل ازتولد حضرت مسیح بازی می گردید . درچین نیز نوعی بازی شبیه به فوتبال درسال ۲۵۰۰ قبل از میلاد مسیح وجود داشت . عکس های مصری نیز نوعی بازی شبیه به فوتبال را نشان میدهد ولی در یونان یک بازی بنام (( اسپیشکیروز)) به طرز جالبی به فوتبال امروزی شبیه بود.فوتبال درسال ۱۸۹۴م ازکشور برازیل شروع شد.این ورزش توسط



{چارلز میله } برازیلی که اجداد او انگلیسی بودند به مردم برازیل معرفی گردید. درسال۱۹۷۰م مسابقه بین ایتالیا وبرازیل برگزارشد که درآن ۸۰۰ نفر تماشاچی اشتراک کرده بود ند .ولی فوتبال مدرن امروزی ازکشور انگلستان سرچشمه گرفته است. فدراسیون بین المللی فوتبال درسال ۱۹۰۴تاسیس گردید ودرسال ۱۹۲۰ بازی کنان درمسابقات المپیک بلژیک اشتراک کردند ودرسال ۱۹۳۰م اولین مسابقات جام جهانی برگزارگرد ید. مشخصات بازی فوتبال زمین (میدان فوتبال) طول زمین میدان فوتبال ستندردآن ۱۲۰ متر بوده وعرض میدان بازی فوتبال ۷۵ الی ۹۰ متر می باشد. تعداد بازی کن های اصلی هرتیم ۱۱ نفر می باشد که از جمله یک نفر آن نگهبان دروازه ومتباقی ده نفردرمیدان بازی میکنند وپنج نفربه شکل احتیاط درجای تعین شده تا هنگام ضرورت بازی راتماشا میکنند.بلندی گول از زمین: ۲۴۴ سانتی متر می باشد. طول گول: ۷ متر و۳۲سانتی متر می باشد.قطرپایه های گول: ۱۲ سانتی متر است.دروسط میدان بازی دایره ای به شعاع ۹ متر و۱۵ سانتی مترترسیم می گردد.تمام میدان بازی فوتبال توسط یک خط بشکل مساوی تقسیم میشود. عرض خطوط :عرض خطوط که توسط آن میدان علامت گذاری می شود ۱۰ سانتی متر میباشد. درچهارگوشه میدان فوتبال نیم دایر ه های ترسیم شده به شعاع یک مترو به نام نقطه کارنر یاد می گردد.وزن توپ فوتبال: ۴۳۰ الی ۴۵۰ گرام می باشد.دراین بازی صرف گول کیپرمیتواند توپ راتوسط دست بگیرد دیگر اعضای تیم درجریان مسابقه توپ را توسط پاها ؛ سینه وسر میتوانند مهارنمایند.تیمیکه گول های بیشتربه زمین حریف وارد کند برنده محسوب می گردد. بازی فوتبال توسط چهارداور داوری می گردد .یک نفر داور{ ریفری} وسطی میدان بابازیکن هادر میدان بوده ودونفر داور دیگردرپهلوی میدان قرارداشته مراقبت می کنندویک داوردیگر بیرون ازمیدان موجود میباشد. وسایل بازی فوتبال پیراهن ؛ نیکر؛ جراب ؛ شینکاک ؛ ساق بند برای گول کیپر؛ دست کش مخصوص برای گول کیپرضروری میباشد. نتیجه گیری کنترول میدان با وجود ٤ بازیکن میانی به شکل لوزی امکان پاسکاری ص۵

# فلم ټکنالوژي!

ادریس سنګر

(فیلم) دا لیکنه د خوځنده انځورونو په هکله ده. د فلم د بل دي. پخوا چې لومړي ځل د عکاسي کامره جوړه شوه، نو د پېښو ثبتول



ډول کاروني لپاره، د عکاسي فلم هغه سلولي وزمه وسیله ده په کوم چې خوځنده انځورونه چاپ شوي وي. دا د یو فلم انځورونو ته د ژوند وربښلو او خوځښت ورکولو د پروژې د اصطلاح نوم دی او په ټولګړې توګه همداسې د انځورونو د ژوندي کولو ځانګړې ځانګه بلل کېږي.

دا چې په اصل کې فلم څه شي دي او څنګه د لومړي ځل لپاره جوړ شو، ددې پوښتنو تر شا یواځې یو حقیقت پروت دي هغه دا چې په اصل کې فلم د عکاسي د کمرې فلم نه لاس ته راغلي او په تاریخي توګه همدا د عکاسي فلم د خوځنده یا ژوندیو فلمونو د منځ ته راتلو لامل یواځې په انځورونو کښلو سره ترسره کېدل، چې د یوې پېښې د هر یوې ثانیې په تېرېدو سره د هر حرکت یو انځور اخیستل کېده، په لومړي سر کې انځور د فلم په بڼه وي کوم چې یوه پلاستیکي فیته ده چې مخ یې په یو ډول کیمیایي مادې پوښلي دي او همدا کیمیایي ماده د نور په وړاندې حساسې ځانګړتیاوې لري. نو د ساري په توګه که چېرته په همدغې فیتې مونږ د ٥ دقیقو لپاره په هره ثانیه کې یو عکس واخلو، نو په یوه دقیقه کې مو ٦٠ بېلابېل عکسونه واخیستل چې په ٥ دقیقو کې یې شمېر ۳۰۰ عکسونو ته رسېږي. هرکله چې د فلم همدا ص۵

# بررسی جرایم دیگر آزارانه(سادیسم) علیه اشخاص

اقــــبال «راقی»

چکیـده: اختـلال شـخصیت دیگـر آزاری(سادیسـم) نوعي ناهنجاري رواني¬است، که افراد مبتلا بـه آن با رنج دادن روحي، جسـمي و جنسي ديگـران، به ارضاي روحي، جسمي و جنسي دسـت مي¬يابند. طبق شـواهد و مطالعـات باليـنی و درمانی، افرادی¬که به اختلال سادیسم یا همان دیگر آزاری مبتلا هستند، در اکـثر مواقع از دیـدن رنج، سـختی و اذیت شـدن دیگران لذت می¬برند. این افراد ممکن اسـت اطرافیـان یعنـی قـوم، خویـش و خانواده خـود را نیز تحقیر و تمسـخر کرده و فریب دهنـد. جالب اینجاسـت که نه تنهـا از ایـن کار پشـیمان نمی-شـوند، بلکه بیشـتر از قبل نیز آنرا تکـرار نموده و خوشـحال می¬شـوند. از همین رو بسیاري از رفتارهـاي مبتنـي بـر دیگر آزاری، مجرمانه تلقي مي¬شوند.

سادیسـم در دسـته بنـدی اختـلالات روانی طبـق آخرین تحقیقـات روانپزشـکی و روان شناسـی بالینـی، یـک اختلال روحی و روانی است که در آن، افراد مبتلا به اختلال سادیسـم، از اینکـه شـخص دیگـری را آزار دهند بسـیار لذت می برند بدون اینکـه ناراحتی آنها را فرا بگیـرد و از کار خود پشـیمان شـوند. اختـلال شـخصیت سادیسـم را می¬تـوان به عنوان وضعیتی تعریـف کرد که در آن فرد تحت فشـار مشکلات فردی قرار می¬گیـرد و حالاتی مانند خشم، سردرگمی، پرخاشگری و رفتارهای غیر متعارف از او دیده می¬شـود. منظور از مشکلات فردی، مشـکلات معمولی است که برای همه افـراد معمولی نیز وجـود دارد ، اما افـراد مبتلا به اختلال آن¬را با خشونت جبران می¬کننـد کـه خشـونت یکی از بارزتریـن ویژگی¬هـای فرد سادیسـمی می¬باشـد. آنچه در این مقاله مـورد بحث و بررسي قرار گرفته اسـت جرایم دیگر آزاری(سادیسـم) علیه اشخاص می باشد.

واژگان کلیـدی: دیگـر آزاری، سادیسـم، اختـلال روانـی، اشخاص، جرایم.

مقدمـه: اصطـلاح سادیسـم به مفهـوم لذت بـردن از تماشـای درد یـا ناراحتی دیگران اسـت یا سادیسـم عبـارت از علاقه به آزار دادن دیگـران بـه صورت جسـمی، روانـی و جنسـی، به¬گونه¬ای¬کـه ایـن آزار رسـاندن موجب لذت و آرامش فرد آزار رسـان شود. افراد مبتلا بـه ایـن اختـلال از تحقیـر و تمسـخر و آزار روحی، جسـمی یا جنسـی افـراد بـه خصوص در حضـور دیگـران زیاد لذت می‌برنـد و گاهـی رفتارهـای پرخاشـگرانه یا در شـکل حاد آن جنایتکارانـه از خـود بروز می‌دهند کـه این عمل در جوامع گوناگـون مرزهـا و محدودیت های متفاوتی دارد. بناءً سادیسـم عبارت از رفتار انحرافی اسـت که فرد بـا آزار وشـکنجه دادن طرف جنسـی خود، به کسـب لذت نایل می¬شـود. فـرد مبتلا به سادیسـم را (سادیک) گویند. سادیک شخصی است که میل به آزار و ازیت دیگران دارد.

با بررسي فرآیند ارتکاب جرم به تخصیص عناصر تشکیل دهنده آن به سـه عنصر مادي، معنوي و قانـوني که يـکي از آنهـا (عنصر معنـوي) مسـتقيماً و دو عنـصر ديگر(مـادي و قانوني) به تبع آن برآمده از کنشـها و واکنش¬هاي رواني انسان هستند .در این میان نقش بیماریهـاي رواني به عنوان عامـل مؤثـر برتفکـر و تعقل انسـاني¬که زمینه¬ساز تصمیمات و رفتارهاي اوسـت، از اهمیت بسـیاري برخـوردار اسـت و اختـلال شـخصیت دیگر آزاري که بـا ایجاد انگیزش نسـبت به تحمیـل رنج و آزار بـه دیگران زمینة بروز بسـیاري از رفتارهاي خشـونت¬آمیز و مجرمانـه را فراهم مي¬سـازد نـه تنها از این قاعـده مسـتثني نیسـت، بلکه ایفاگر نقشي اساسي نیز مي¬باشد .از ایـن رو بـررسي تأثیرات این اختلال شخصیت و عوامل آن در تکویـن بسـیاري از جرائم علیه اشـخاص، حائز توجه و اهمیت است. که در این مقاله مفصلاً به تبیین آن مي¬پردازیم.

جرایـم دیگـر آزارانـه علیـه اشـخاص: جرائم دیگـر آزارانه علیـه اشـخاص مي¬تواند به دو شـکل یعنی جرائم دیگر آزارانۀ جسـمي و جرائم دیگـر آزارانۀ روحـي صـورت بگیـرد که در ادامه به توضیـح هر دو نوع آن مي-پردازیم:

۱. جرائم دیگر آزارانه¬ جسمي علیـه اشـخاص: جرائـم دیگر آزارانۀ جسـمي علیه اشخاص به اشکال مختلف صورت مي¬گیرد که به موارد مهم آن مي¬پردازیم.

۱. قتل دیگر آزارانه: قتل عبارت از کشتن یك انسان به صورت عمد یا غیر عمد اسـت، که نوع عمد آن مي¬تواند دیگر آزارانه باشد. به این صورت که فردي با انگیزه کسب لذت، اقدام به کشتن افراد کرده و از دیدن رنج و درد آنها و یا مشـاهدۀ خون به ارضا برسد، بـدون آنکه دلیـل موجهي براي کشـتن آن افراد داشـته باشد. به آن دسـت از دیگـر آزارانی¬که با دیـدن خون به ارضا میرسـند اصطلاحاً خون دوست نیز گفته مي¬شـود. این دسـته از افراد با ایجـاد بریدگي¬هـاي عمیق بر جسم قرباني به تماشاي خونریزي مي¬ایسـتند و از آن به اوج لذت دسـت مي¬یابنـد .در قتل¬هاي دیگـر آزارانه، فرد جـان دادن افراد را بـه سرگرمي لذت بخشي بدل مي¬کند که هر روز بیشـتر شـوق آن را احساس مي¬کند. به همین دلیل با هدف کسـب لذت روز افزون به جنایات بیشـتري دست میزند. درجریان قتل¬هاي سریـالي نیز با افـرادي مواجهیم که هیچ چیز برایشـان جایگزین لذتي¬کـه از دیدن زجـر، خون ریـزي و جـان دادن دیگـران به دسـت مي¬آورند، نمي¬شـود و بـه همیـن دلیل بـدون هیچ هراسي اقدام بـه قتل¬هاي پیاپي مي¬کنند. اکثر قتل¬هاي سریالي هر قاتل، معمولاً با روش مشابهي صـورت مي¬گیرد که بیشـترین رضایت را براي او در بردارد. در روانپزشـکي قانوني به زنجیره¬اي از قتل¬هـاي دیگـر آزارانـه، قتـل شـهواني نیز گفته میشـود. «چنانچـه گویـي افراد توسـط حیوان درنده یکي پس از دیگري مـورد حمله واقع شـده¬اند. در اینجـا بـا شـهوتي در درون یك انسـان مواجه هستیم که اورا به حرکتـي بدون توقـف در جهت از بین بردن مردم واداشـته است و قاتل همانند سربـازي همواره مشـغول فرمان¬بـرداري از این حس شـیطاني اسـت، شهوت در آخر آن سرباز را به ورطه نابودي خواهد کشـاند، اما معلوم نیست که تا آن زمان چند نفر قرباني این سرباز و فرمانروا شوند».

۲. آدم خـواري دیگـر آزارانه: خوردن گوشـت انسـان توسط فرد مبتلا به اختلال دیگر آزاری به هدف رسـیدن بـه اوج لذت، آدم خواري دیگـر آزارانه گفته مي¬شود. آدم خواري آنقدر دور از طبع انسـاني اسـت که شـاید در هیـچ یـك از قوانـین جزایي کشـورها صحبتـي از آن به میان نیامده باشد و معمولاً هم در کنار جرائم دیگـري مثل قتل و ضرب وجـرح و... اتفـاق مي¬افتـد. اما اصطـلاح آدم خواري جنایي رایج بوده اسـت و معمولاً آن را به چهار دسـته یعنی تغذیه¬اي، جنسي، تهاجمي و معنوی تقسیم مي¬کننـد که نـوع تغذیه¬اي، جنسي و تهاجمـي آن مي¬تواند دیگر آزارانه باشد.

الـف - آدم خـواري تغذیه¬اي: آدم خواري دیگر آزارانه، لزوماً همزمـان با بریدن گوشـت بدن انسـان وخوردن آن بـه صورت خام نیسـت. بلکـه آدم خواري تغذیه¬اي به این معنی اسـت که دیگر آزار با نگهداشـتن اعضاي بدن افراد در منزل خود اقدام به پخت غذا با آنهـا مي¬کند و هر زمان که این مواد غذایي انسـاني به پایان برسـد، اقدام به ربودن افـراد جدیـد و بریـدن اعضـا بدنشان مي¬کند.

ب - آدم خـواري جنسي: در این نـوع از آدم خـواري دیگر آزارانـه، فرد با خـوردن اعضاي بـدن انسـان بـه ارضـا جنسي دسـت مي¬یابد. هماننـد آندره چیکاتیلـو(۱۹۹۴-۱۹۳۶) قاتـل سریـالي اوکراینـي کـه «بعد از دیـدن فیلم¬هـاي غیراخلاقي و خشن به هدف ارضا، که توانایي انجـام آنرا بـه صـورت طبیعي نداشت اقدام به آدم خواري مي-کرد.

ج - آدم خـواري تهاجمـي: آدم خـواري تهاجمـي بـه هـدف ترسـاندن هرچه بیشتر قرباني و ایجاد حس تسـلیم بـودن کامل در وي صـورت مي¬گـیرد. در این نـوع از آدم خواري جنایي، معمـولاً دیگـر آزار بـا خوردن بخـش کوچکي از بـدن فرد اورا بـه وحشـت انداختـه و از این کار لذت مي¬بـرد «آدم خواري تهاجمـي معمـولاً بـا بریـدن قسـمت-هایي از گوشـت بازو، ران و یا قطع انگشـتان قرباني و خوردن آنها همراه است«.

۳. ضرب و جـرح دیگر آزارانه: ضرب و جـرح دیگـر آزارانـه محسوب مي¬شود که بدون دلیل مشخصي نظیر دشمني، عصبانیت، و... صـورت مي¬پذیـرد و فرد در آن بـا ایجـاد آزار به وسـیلۀ ضربه¬هاي بدني، اشـیاي سخت یـا برنده نسـبت بـه دیگران و مشاهده رنج آنها به ارضا میرسد.

٤. کودك آزاري مبتني بر اختلال دیگـر آزاری: «تحمیل هر گونه زجر و درد جسـمي یا جنسي به کودکان براي رسـیدن به کسب لذت را کـودك آزاري بر آمده از اختـلال شـخصیت دیگر آزاری مي¬گوینـد» اطفـال بـه علت ضعف جسـماني و عدم آگاهي از ناهنجاري¬هاي اجتماعي همواره در معـرض ارتـکاب جرایـم گوناگـون قرار دارنـد و یکي از اهداف همیشـگي دیگر آزاران هستند.

٥. همسـر آزاري مبتني براختلال دیگـر آزاری: همسر آزاري، یکي از بارزترین انـواع دیگر آزاری است که در محدودۀ خانه اتفاق مي¬افتـد .بـه این معنـا که فرد به وسـیله ایـراد ضرب و جرح بي دلیل نسـبت به همسر خود و یا اقدامـات رنـج آور جنسي به رضایت میرسد. «حدود۹۰ درصد از قربانیان خشـونت خانگي در جهـان را زنان و حدود۱۰ درصد را مـردان تشـکیل میدهنـد که بیش از ۴۸ درصد رفتارهاي آزار دهنـده علیه زنـان و بیش از۳۵ درصد رفتارهاي خشـونت آمیز علیه مـردان، مبتني بـر اختلال شخصیت دیگر آزاری هستند».

٦. معلول آزاري مبتني بر اختلال دیگر آزاری: معلولیت انسانها به دو نوع جسـمي و ذهني تقسیم مي¬شـود کـه در هـردو نوع، معلولـین به علت آسـیب پذیري فـراوان به سـوژه¬هاي مطلوبي جهـت ارتـکاب جـرم دیگـر آزارانه تبدیل مي¬شوند .معلولین ذهنـي به علت عـدم توانایي در تشـخیص خطر و انتخاب نحوۀ مقابلـه و عدم توانایـي در آگاه کردن دیگران و معلولان جسمي به علت عـدم توانایـي مطلوب در دفـاع از خـود، معمـولاً به سادگي مورد آسیب¬هاي جنسي و جسـمي قـرار مي¬گیرند. در بسـیاري از آسایشـگاه¬هاي معلولین ذهني و جسمي، مدارس استثنایي، باشـگاه¬هاي ورزشي ویژه معلولـین و ...دیگر آزاران بسـیاري به هـدف ارضاي خود دسـت به آزار معلولین مي¬زنند که بسـیاري از این موارد پنهان مي¬مانند و یا درصورت پیگیري به سـادگي به اقدامـات تربیتي مرسوم تعبیر مي¬شوند.

۷. سـالمند آزاري مبتنـي بـر اختـلال دیگر آزاری: «سـالمند آزاري بـر آمـده از اختـلال شـخصیت دیگر آزاری، فعـل یا ترك فعلي اسـت کـه موجب ایجاد رنج در سـالمندان شـده و رضایـت دروني یـك دیگر آزار را رقـم بزند». سـالمندان عموماً به علت مشـکلات جسمي ناشي از بیماري¬ها و دشـواري¬هاي حرکتي قادر به دفاع از خویشتن نیستند، مضافاً بالا بودن شاخص ترس وتهدید پذیري درسـالمندان آنهارا بـه موجـودات بي دفاعي در برابر خواسـت افراد مبتلا به دیگـر آزاری تبدیل مي¬کند .به مـوارد بالا مي¬توان مشـکلات ذهني از قبیل آلزایمر را نیز افزود .عموماً آزار سالمندان به صورت روحـي و رواني نظـیر تحقیر و بعضاً ضرب و شـتم اسـت و به علت عدم جاذبـۀ جنسي، کمتر مورد تجـاوز قـرار مي¬گیرند. امـا در سـالمند آزاري مبتني بر دیگـر آزاری از آنجایي¬که تنها هدف دیگـر آزار، ایجـاد رنج وعذاب براي طرف مقابل است، مي¬توان با تجاوز جنسي نیز رو به رو شد.

۲. جرایـم دیگر آزارانه¬ روحي علیـه اشـخاص: جرایـم دیگر آزارانـه روحي علیه اشـخاص، جرایمي هسـتند که در آنها فرد به هـدف رسـیدن بـه ارضا و کسب لذت اقدام به آزردن روان اشـخاص از طریق رفتار، گفتار یا نوشتار مي¬کند. این جرایم از شـیوعي به مراتب بیشتر نسبت به جرایم دیگر آزارانه جسـمي علیـه اشـخاص برخوردارند اما نمي¬تـوان براي آنهـا خطرات کمتري در نظـر گرفت. زیرا آرامش ذهني افـراد را مختل مي-کننـد و در صورت ادامه مي¬تواننـد منجر بـه ایجاد اختـلالات شـدید روحي و ابتلا بـه امراض رواني در فرد شوند. انسانها علیرغم تفاوت هایي¬کـه دارند در اصل درد پذیري جسـمي مشـترك اند و آنچـه براي یك انسـان درد آور اسـت براي تمام انسانها با اندك شدت و ضعفي درد آور اسـت، اما آزار روحي افراد وضعیـت پیچیده¬تري دارد؛ زیرا وضعیت

**ص ۵**

# د ځتکو او لويو سېلابونو د را وتلو علتونه څه دي!؟

ازهر احــمدي

پـه دې تـېرو څو کلونو کـې په نړۍ کـې اقليمونـو ژور بدلـون کړی دی ، چې پـه اکـثرو هېوادونـو کې يي خلکو ته درانه مـالي او ځاني زيانونه اړولي دي . هـوا او اقليم دواړه د بشر د روغتيا اساسي فکتورونه (هوا،غذا او اوبـه) متاثره کـوي اوهمدارنګه د تودوخې درجه، د سـېلابونو رامنځته کېـدل،د توفانونـو واقـع کېدنه او د سـاري ناروغيو انتقال متاثره کوي. د نـړې اقليم د مختلفوطبيعي او انسـاني اسـبابو لکه Fossil fuel (طبيعي ګاز، پټـرول، نفـت)، صنعتـي او کرنيزو عمليـو په نتيجـه کې بدليـږي، دغه اسباب اتموسفير ته کاربنډای اوکسايد او نور شـين خونيزه ګازات ورکوي. په نړيواله کچه د اقليم بدلون تاثيرات او اغيـزې لـه دوامداره سـېلابونو، د تودوخـې درجې شـدت، وچکالي، د سـمندر د سـطحې لوړوالي او تيزابي کېدل، د تودوخـې درجې زياتوالی او په اوربشـت کې بدلـون څخه عبارت دي. انسـانان پـه مسـتقيم ډول سره ( تودوخه، اورېښت، د سمندر د سطحې لوړوالي او نورو شـديدو حادثو) کې بدلون تر اغيزې لاندې راولي او په غير مسـتقيم ډول سره په پرله پسې توګه د اوبـو، هوا او غذا پـه کيفيت کې هم بدلون منځ ته راوړي او سر بېره پر دي په ايکوسيستم، کرنه، صنعت، اقتصاد او د انسـانانو په استوګنځی کې هم د تغير او بدلون سبب ګرځي.

مسـتقيمې او غـير مسـتقيمې اغيزې کېدای شي ،چې د انسـانانو د مړينې، معيـوبې او اختـه کيدنې سـبب شي. نړيواله روغتيايـي اداره :(WHO) د يوه اټکل له مخې په نړيواله سـطحه د نـړې د اقليـم بدلـون د اغيـزو په اثر ۱۵۰۰۰۰ انسـانان د مړينې سـبب ګرځـي. IPCC په ښـکاره ډول سره ديـوه راپور له مخې ښـودلې ، چې په نړيواله سـطحه د اقليم بدلون په نړۍ کې د ناروغـۍ د اخته کېدنـې او په خـاص ډول سره په ماشـومانو کې د زياتې مړينې سبب ګرځي.

دواړه پرمختللي او پرمختيايي هېوادونه د اقليم بدلون د منفي اغيزو پواسـطه متاثـره کېږي ،چې دغـه منفي اغېزې يې عبارت لـه اوږدمهاله سـېلابونه، پـه افريقااو جنوبي آسـيا کې سـخته وچـکالي، پـه اروپا کـې د تودوخې شدت ښودل شـوې دي. د اقليم بدلون اکثره اغيزې په هغو اسـتوايي او نيمه اسـتوايي هېوادونو کـې واقع کېږي، چـې د غربت لوړه کچـه ولري. هغه هېوادونه چې ضعيف روغتيايي سيستم لري لکه بنګله دېش او افغانستان چې د German watch د څېړنـې لـه مخې بنګله دېش او افغانسـتان په نړۍ کې يواځنې هغه هېوادونه دي، چې د اقليم بدلـون په مقابل کې ډېر حسـاس دي او د اقليـم بدلون څخه زيات په خطر کې دي ،څکه چې په بنګله دېش کې عموماً ښـځې ډېرې زياتې بېوزله دي ، همدارنګه په دغـو دواړو هېوادونو کـې د نفوس زيات تراکـم، د تعليمي کچې کموالـی، په لوړه درجه غربت، د منابعو کمـزورې تکنـې حالت، نا مناسبې بنسټيزې آسـانتياوې ټول هغه فکتورونه دي چې دواړه هېوادونه يې د خطرونو سره مخ کړي دي.

د تودوخې شـدت او د هوا د ککړتيا اغيزې په روغتيا باندې: د اقليم بدلون پواسـطه دغه ډول اغيزې هغه وخت مينـځ ته راځي کله چې د ښـارونوپه جغرافيوي سـاحو کې پراخوالې راشي چې په نتيجه کې د نباتي فرش سـاحه کمېږي او د تودوخې شدت زياتېږي. د تودوخې په واسـطه مړينه په دواړو حالاتـو کـې يعنې پـه لـوړه او ټيټه تودوخه کې واقـع کېږي هغه خلک چې پـه ډېرو ګرمو سـاحو کې ژوند کوي د ټيټـې تودوخې پـه مقابل کې ډېر حسـاس وي او هغـه خلک چې په ډېرو يخو ساحو کې ژوند کوي په هغوی باندې ډېره لوړه تودوخه بد اثر کوي يعنې ورسره حساسـيت ښيي. د تودوخې د شدت پواسطه متاثره کېدل د اقتصـادي او اجتماعـي فکتورونو پورې اړه لري لکه نامناسب پټنځی او نور. د تودوخې د شدت پواسطه اکثره د زيات عمر لرونکـي خلک او هغه کسان چې له مخکې په ناروغۍ اخته وي پـه غير متناسـب ډول سره متاثره کېږي او په اساسـي ډول سره دزړه په ناروغـۍ، دماغي ناروغـۍ او تنفسي ناروغيو پواسـطه اخته او مړه کېږي د نمونـې په ډول پـه ۱۹۹۵ م کال کې په شـيکاګو کې د تودوخې د شـدت له کبله ۵۱۴ کسان مړه شول.

د اقليـم دبدلـون له کبله د سـمندر د سطحې لوړوالي:

سـيلابونه او د اقليم بدلون: سيلابونه اکثره د اقليم دبدلون پواسـطه په هغو سيمو کې رامنځته کېږي کومې سيمې چې د سـيلابي زوړنده سـيندونه لري لکه مرکزي امريکا، اروپا، جنوبي آسيا او چين . په نړيواله کچه به سېلابونه د نړۍ د زياترو هېوادونو أبخيزې سيمې متاثره کړي. د اقليم بدلون د سيندونو د سيلابي کيدلو خطر هم زياتوي .د اقليم بدلون دځتکو او لويو سيلابونو سبب ګرځي، چـې په نتيجه کـې په زياتې اندازې سره مرګ ژوبله رامنځته کړي او همدارنګـه سـيلابونه د پاکو اوبو د ککړتيا سـبب ګرځي چې په نتيجه کې به د ککړو اوبو د څښـلو پواسطه سـاري ناروغۍ زياتې شي لکه کولرا او هېپټايټس A او نور. شديد باران او د هغه جريانـات د زهرجنو ډېرانو، د تشنابونو د ګندګيو او د کرنيزو ساحو څخه زهرجن مواد او نور مضره مواد راوړي او پاکـې اوبه ککړوي چې په نتيجه کې زيات انسانان مړه او ناروغ کړي، شديد باران شايد د پتوجنو لکه Cryptosporidia او Giardia انتقال او خپريدنې ته تغير ورکړي .

د اقليـم بدلون او په لوړو سـاحو کې ملاريا ناروغـۍ: ختيځه افريقا د نړۍ د هغو سـيمو څخه ده چـې د ملاريا ناروغۍ تر زياتې اغيزې لاندې ده او د اقليم بدلون پواسطه ډېره متاثره شوې ده. سـاري ناروغيو (ملاريا او ډينګي تبه) پـه عمومي ډول سره په مناسـبو محيطي شرايطو کې د يوه انسان څخه بل انسـان ته انتقاليـږي. ارتروپودا د حيواناتو فايلم لکه غوماشې، مچان او نور حشرات ټول د سرې وينې لرونکي حـشرات دي نو ځکـه د تودوخې او رطوبت د ناڅرګندو تغيراتو په مقابل کې حسـاس دي . موږکان او نور غير انساني تي لرونکي حيوانات کوربه هم د خپل هبيتـاټ او د محيطي شرايطو پواسطه متاثره کېږي.

# Hewad Daily

یکشنبه د ربیع الاول ۹مه ۱۴۴۵ ق کال د ۱۴۰۲ ل کال د تلې ۲یمه د 2023 م کال دسپتمبر۲۴مه

د ورځپاڼو رئیس : م محمد ابراهیم نبیل
موبایل : ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷٤۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸٥۰۳۳۷۱

پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوې ودانۍ
د اړیکو شمېره: س۱۰ ۲۵۲۶۳۱ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیواد ورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
ویب سایت: www.hewaddaily.com
د شکایاتو اوتوزیع ځانګه:
۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳-۰۲۰۲۱۰۶۹


# د افغانستان، ازبیکستان او عربي متحدو اماراتو ترمنځ درې اړخیزه غونډه جوړه شوه

د افغانستان، ازبیکستان او عربي متحدو اماراتو ترمنځ درې اړخیزه ناسته، پرون په کابل نړیوال هوایي ډګر کې ترسره شوه.د ترانسپورت او هوایي چلند وزارت د یوې خبرپاڼې په خبرولو سره ویلي، چې په دې ناسته کې د ترانسپورت او هوایي چلند وزارت سرپرست ملا حمیدالله آخندزاده، د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ شهاب الدین دلاور، د افغانستان د وسپنې پټلۍ اداري رئیس ملا بخت الرحمن شرافت، د ازبیکستان د ټرانسپورټ وزیر الهام محکموف او د دې هیواد د کانونو وزیر بابر اسلاموف او د عربي متحدو اماراتو لوړپوړي پلاوي ګډون کړی و.په دې ناسته کې د افغانستان د کانونو د استخراج، د واټ ترانسپورټ، ټرانزیټ او د وسپنې پټلۍ پر پراختیا او همدارنګه د سویلي او منځنۍ آسیا د وصل په اړه خبرې شوې دي.د یادونې وړ ده، چې تېره میاشت هم د ازبکستان یو لوړپوړی پلاوی افغانستان ته راغلی و او پر تورخم سربېره یې له ځینو نورو ټرانزیټي سیمو لیدنه کړې وه او په دې برخه کې پر ګډو همکاریو ټینګار شوی و.



# په خوست کې ۴۵۰ تنو ته د کار زمینه برابره شوې

د خوست ښاروالۍ مسئولین وایي: د مرکز اړوند په بېلابېلو کلیو کې د څه د پاسه یو نیم میلیون ډالرو په ارزښت د بیارغوني پروژې رواني دي.د خوست ښاروال بسم الله بلال وویل: د بیارغوني په دې پروژو کې په کانکرېټي ډول د کلیوالي لښتیو، کوڅو او سړکونو جوړول شامل دي ،چې مالي لګښت یې د UNOPS موسسې له لوري ورکول کېږي.نوموړي خپلو خبرو کې وویل: دغه اداره د دا ډول ۲۹ پروژو د پلي کولو پلان لري ،چې په هره پروژه باندې ۱۳۰ زره امریکایي ډالره لګښت راځي او هر مسلکي کس ته ۷۰۰ افغانۍ او عادي ته ۴۵۰ ورځني مزد ورکول کېږي:(( موږ له دې الحمدلله وخت په وخت نظارت کوو، کوم ځای کې چې مشکل وي هغه ترې ړنګوو، هېڅوک داسې نه شي کولی چې په خپل سر کار وکړي یا یې کیفیت نه وي سم او یا کومه بله معامله په کې شوې وي. زه ډاډ **۵مخ**



# یوې مېرمنې ۴۵۰ ښځو ته د کار زمینه برابره کړې

د فرشتې په نامه د سوداګرۍ مېرمنې مرستیال جعفر علي غلامي وایي، چې له تېر یو کال راهیسې یې د مزار شریف ښار په بېلا بېلو سیمو او دهدادي ولسوالۍ کې د غالۍ اوبدلو پنځه مرکزونه فعال کړي او نږدې ۴۵۰ ښځو ته یې پکې د کار کولو زمینه برابره کړې ده. د نوموړې په وینا: له دې کاره یې موخه پر کور ناستو ښځو ته د کاري فرصت برابرول دي او غوارې هغه مېرمنې ،چې د غالۍ اوبدلو له زده کړې سره لېوالتیا لري په وړیا ډول زده کړه ورکړي.**۵مخ**



## د دوشي- بامیانو پر سړک د کرېړ اچولو چارې پیل شوې

د بغلان د تولګټو ریاست، له دوشي څخه تر بامیانو پورې پر غځېدلي سړک ، چې د سالنګ بدیله لاره بلل کېږي پرې د کرېړ اچولو چارې پیل کړې دي.د بغلان د تولګټو رئیس ملا محمد عباس آخند زاده د باخترآژانس خبریال ته ویلي:

(( د سیمه ییزو او مرکزي چارواکو د لاربښووني له مخې، څو ورځې مخکې د بامیانو له دوشي څخه ترحدبخشي پورې د عامه سړک د جغل اچونې او هوارولو چارې د یاد وزارت له خوا پیل شوي او په جدي توګه دوام لري.))د نوموړي په خبره دغه سړک ۷۶ کیلو متره دي، چې څه ناڅه ۶۰ کیلومتره یې جغل اچونې او هوارولو ته اړتیا لري.د یادونې وړ ده چې یاده لاره د سالنګ بدیله لاره بلل کېږي ،چې اوس مهال پرې مسافر تګ او راتګ کوي.

# د زابل په ځینو ولسوالیو کې د روغتیایي خدمتونو کموالي خلک له ستونزو سره مخ کړي

د زابل د شاه‌جوي او خاک‌افغان ولسوالیو ډاکټران وایي: د روغتیایي خدمتونو او امکاناتو کموالي د دغو ولسوالیو اوسېدونکي له سختو ستونزو سره مخ کړي دي. د دوی په وینا، یوشمېر ناروغان چې روغتیایي وضعیت یې نازک وي، مرکز کلات ښار ته تر رسېدو مخکې پر لارې خپل ژوند له لاسه ورکوي. دوی له حکومت او اړوندو مرستندویو بنسټونو د نویو روغتیایي مرکزونو د جوړېدو، د ډاکټرانو زیاتولو او نورو روغتیایي برخو کې د شته ستونزو د حل غوښتنه کوي. د خاک‌افغان ولسوالۍ د ((کاکیران)) روغتون ډاکټر عظیم‌الدین نظامي او د شاجوي ولسوالۍ د مرکزي روغتون ډاکټر عمران په دې اړه رسنیو ته ویلي: (( دلته د ناروغانو شمېر او ګڼه‌ګونه ډېره زیاته ده؛ څکه روغتون کوچنی او ناروغان راباندې ډېر دي. موږ له دولت څخه دا غوښتنه کوو، چې د لرې پرتو ولسوالیو د روغتیایي مرکزونو ستونزې حل کړي.)) (( پر شاجوي سربېره، د څلورو نورو ولسوالیو ناروغان هم دغه روغتون ته راځي. دا روغتون باید DH شي، کنه سي‌اېچ‌سي‌پلس خو باید شي. دلته ډېر هغه ناروغان چې حالت یې نازک وي، ژوند له لاسه ورکوي.)) د دغو**۵مخ**

# د سټنډرډ ملي اداري ۷۵ ټانکره بې کیفیته تېل بېرته ایران ته مسترد کړل

د سټنډرډ ملي اداري ایران هېواد ته د ۷۵ ټانکره بې کیفیته تېلو د بېرته مستردولو خبر ورکړی دی.یادې ادارې د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې په تېره یوه اوونۍ کې یې د فراه په ۷۸میل بندر کې ۷۵ ټانکره بې کیفیته تیل (ډیزل او پټرول) چې د دې ادارې له سټنډرډونو سره یې مطابقت نه درلود بېرته ایران ته مسترد کړي دي.خبرپاڼه زیاتوي، چې په دې وروستیو کې سټنډرډ ملي اداري په خورا جدیت د بې کیفیته تېلو د واردولو د مخنیوي لپاره عملي ګامونه پورته کړي. یادې اداري له ټولو سوداګرو څخه غوښتنه کړې، چې هیواد ته با کیفیته توکي وارد کړي، کنه نو له ورته قانوني چلند سره به مخ شي.د یادونې وړ ده، چې یادې اداري تر دې وړاندې هم سلګونه ټانکره بې کیفیته نفتي توکي اړوندو هېوادونو ته مسترد کړي وو.



# د فاریاب تاریخي آثار او ځایونه د ورکېدو له ګواښ سره مخ دي

د فاریاب یوشمېر فرهنګي فعالان وایي ، چې د دې ولایت تاریخي سیمې او آثار په ناوړه وضعیت کې دي او د ورکېدو له ګواښ سره مخ دي. د دوی په وینا، په تېرو کلونو کې د دې ولایت تاریخي آثارو ته ځانګړې پام نه‌دی شوی.لیکوال او فرهنګي فعال سید تاج‌الدین تاشقین بهایي وایي، حکومت باید د دغه ولایت تاریخي اثار او سیمې وساتي. دی زیاتوي: (( تاریخي ځایونو او تاریخي آثارو ته مو پام نه‌دی کړي. کوم تاریخي او لرغوني اثار چې په فاریاب کې وو، نږدې ټول یې زیانمن شوي دي. ډېر یې د جمهوریت د ۲۰ کلونو پر مهال د بهرنیانو له لوري لوټ شول.))دفاریاب یو بل فرهنګي فعال حسیب‌الله وایي: (( په تېرو شلو کلونو کې د نورو حکومتونو له لوري تاریخي سیمو ته هېڅ پام نه‌دی شوي او دا تاریخي سیمې نه‌دي رغول شوي او اوس پر کنډوالو بدلې شوي. هیله لرو چې لرغونو او تاریخي ځایونو ته ځانګړې پام او بېرته ورغول شي. )) دغه فعالان د فاریاب له محلي مسئولینو**۵مخ**

## د خوست امنیه قوماندان:
# د امنیت د لا ټینګښت لپاره مو پر نوې طرحه کار پیل کړی

د خوست د امنیه قوماندانۍ د امنیت آمر عبدالحلیم حیدر غونډې ته ویلي، دوی په داسې یوه طرحه باندې کار پیل کړی چې، د امنیت په لا ټینګښت او پېښو ته د رسیدو په برخه کې به لا اغېزناکه تمامه شي ، ده په خوست کې جوړې شوې غونډې ته په خپلو خبرو کې وویل: د دوی لومړۍ طرحه به دا وي ،چې په ډېرو مسایلو کې د خلکو نظرونه ترلاسه او د هغوی په مشوره باندې مسایل حل او فصل شي. نوموړي وویل، د دې طرحې په ترڅ کې به همدا ډول په دغه ولایت کې ټولو قومي شخړو ته یوه عادلانه د حل لاره برابر ه شي او ډېرې داسې شخړې چې په تېرو شلو کلونو کې ناحله پاتې وې، حل شوې دي: **۵مخ**



## بهرني لنډ خبرونه

## ولسمشر اردغان:
# د کشمیر قضیه کې د پاکستان ملاتړ کوو



د ترکیې ولسمشر ((رجب طیب اردغان)) د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ په ۸۷ یمه غونډه کې د خبرو پر مهال اسلامي نړۍ کې پر روان وضعیت خبرې کړې او ملګرې ملتونه یې د نوم له اخیستو پرته د څلورو هیوادونو مستعمره بللې او په خبره یې یاد سازمان اوس هغه حیثیت له لاسه ورکړی، چې د کوم هدف لپاره جوړ شوی و.ولسمشر اردغان د خپلو خبرو پر دوام ویلي، چې د یو داسې فلسطیني دولت د جوړېدو ملاتړ کوي ،چې پلازمېنه به یې بیت المقدس وي او په دې برخه کې به فلسطینیانو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي. نوموړي دغه راز په یو شمېر غربي هیوادونو کې د قرانکریم بې حرمتي غندلې او د بیا تکرار په صورت کې یې د جدي غبرګون ګواښ کړی دی.ولسمشر اردغان دغه راز د آذربایجان او ارمنستان په روانه شخړه کې یوځل بیا د آذربایجان ملاتړ کړې او (( نګورنو قره باغ(( یې د آذربایجان یوه نه جلا کېدونکې برخه بللې ده.ولسمشر اردغان د خپلو خبرو پر دوام په کشمیري مسلمانانو د هندي حکومت ظلمونه غندلي او د کشمیر په قضیه کې یې د پاکستان ملاتړ کړی او د هند تر ولکې لاندې کشمیر یې د پاکستان یوه نه جلا کېدونکې برخه بللې ده.نوموړي دغه راز په سوډان، یمن، صومالیا، لیبیا، سوریه او ځینو نورو هیوادونو کې روانو شخړو ته په اشارې ویلي :که مسلمانان متحد شي یادې ستونزې به په ډېره ښه او اسانه توګه حل شي.اردغان په مراکش او لیبیا کې د وروستیو طبیعي پېښو قربانیانو سره د نړیوالې ټولنې مرستې ناچیزه بللي او په نړیوالو یې غږ کړی، چې یادې پېښې له سیاست سره ونه تړي.

## محمد بن سلمان:
# له اسرائیلو سره د اړیکو عادي کېدو ته نږدې شوي یو



د سعودي ولیعهد محمد بن سلمان ویلي چې له اسرائیلو سره د عادي اړیکو پیل ته نږدې شوی دی .وروسته له هغې چې په دې اړه یو شمېر رسنیو راپورونه خپاره کړل، دا لومړی ځل دی، چې د سعودي ولیعهد له اسرائیلو سره د اړیکو د عادي کولو په اړه دا ډول څرګندونې کوي.نوموړي له فاکس نیوز سره په مرکه کې ویلي چې د فلسطین د مسئلې حل له اسرائیلو سره د روغې جوړې مهمه برخه ده.

# د روسیې د دفاع وزیر ایران ته تللی



د روسیې د دفاع وزیر سیرګي شویګو وایي، د مسکو او تهران ترمنځ اړیکې نوې پړاو ته رسېدلې دي.شویګو ورمه ورځ تهران ته د سفر پر مهال دا خبره کړې او زیاته کړې یې ده ،چې د دوی اړیکې د لوېدیځ د ډېرو هیوادونو له مخالفت سره سره ښې شوې دي.د روسیې انټرفاکس خبري اژانس د شویګو په حواله ویلي، پر روسیې او ایران د لوېدیځ له خوا د بندیزونو فشار بې ګټې او د مسکو او تهران تعامل نوې کچې ته د رسېدو په حال کې دی.

لوېدیځ پر ایران تور پورې کوي ، چې روسیې ته د اوکراین د جګړې لپاره پوځي تجهیزات په ځانګړې توګه د شاهد په نوم ډرون الوتکې ورکوي، خو ایران دا تورونه رد کړي دي.